د قيامت په ورځ به تر ټولو سخت عذاب هغه چاته ورکول کيږي چې د الله جل جلاله مخلوقات انځوروي

له ام المؤمنين عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی وايې چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم په داسې حال کې راغی چې ما د خپلو کالیو صندق په یوې تکې سره پوښلی و چې انځورونه پکې وو، نو کله یې چې ولیده بده یې وګڼله، رنګ یې تغیر شو او ویې فرمایل: «ای عائشې د قیامت په ورځ به تر ټولو سخت عذاب هغه چاته ورکول کیږي چې د الله جل جلاله مخلوقات انځوروي» عائشې وویل: نو هغه تکه (ټوکر) مو څېرې کړ او یو یا دوه بالښتونه مو ترې جوړ کړل».

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم په خپل کور کې عايشې رضي الله عنها ته ورغی نو په داسې حال کې یې ولیده چې هغې خپل هغه صندق چې کالي پکې اېښودل کیږي په داسې یوه ټوټه پوښلی و چې د ذی روحه شیانو انځورونه پکې و، نو د الله لپاره غصه شو، رنګ یې بدل شو، او ویې فرمایل: د قیامت په ورځ به تر ټولو زیات عذاب د هغو خلکو وي چې په انځورګر کې د الله جل جلاله مخلوقات انځوروي. عايشه وايي: نو یو یا دوه بالښتونه مو ترې جوړ کړل.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/5931